**هغو ځانګړو کډوالو افغانانو لپاره معلوماتي پاڼه چې په یوه خوندي پناه ځای کې د خپل وضعیت د تنظیم په اړه غوښتنه کوي**

متحده ایالاتو ته ښه راغلاست. څنګه چې تاسو خپلو نویو کورونو ته ورځئ او په خپلو سیمه ایز ټولنو کې مدغمیږئ، نو ستاسو روغتیا، خوندیتوب او ښېګڼه به زموږ لومړیتوب وي.

**ځانګړی کډوال**

که چیرې باور لرئ چې له متحده ایالاتو سره یا یې په استازیتوب د دندې پر بنسټ د ځانګړي کډوال په توګه د حیثیت د تعدیل د غوښتنې مستحق یاست یا مو متحده ایالاتو ته تر راتګ وړاندې د کډوالۍ د ځانګړي ویزې د غوښتنې پروسه پیل کړې خو لا مو بشپړه کړې نه وي، نو اړ یاست چې لاندې پروسه بشپړه کړئ:

1. بهرنیو چارو وزارت او د ماموریت د مشر (COM) تأیید ترلاسه کړئ.
   - د لا زیاتو معلوماتو لپاره، travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/special-immg-visa-afghans- employed-us-gov.html یا travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/siv-iraqi- afghan-translators-interpreters.html وګورئ.
   - که چیرې مو له مخکې نه د ماموریت د مشر (COM) تأیید ترلاسه کړی وي، دویم پړاو ته لاړ شئ.

2. د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدمتونو اداري (USCIS) سره د I-360 فورمه، امریکایي – اسیایي، کونډ/ کونډې یا ځانګړي کډوال لپاره عریضه ډکه کړئ. چمتو شوې لارښوونې په دې پته uscis.gov/i-360 تعقیب کړئ.

   - بنایي خپله عریضه له اړینو اسنادو سره (د لومړیتوب له مخې په PDF شکل) سکین او په دغه پته nsci360sivapp@uscis.dhs.gov یې ایمیل کړئ. د مهربانۍ له مخې هغه برېښنالیک پته پهکې ولیکئ چې غواړئ متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدمتونو اداره به درته یو برېښنایي رسید درواستوي.
   - که چیرې د I-360 فورمې تصدیق لرئ، دریم پړاو ته لاړ شئ.

3. که چیرې د متحده ایالتونو د تابعیت او کډوالۍ خدمتونو اداري لهخوا د I-360 فورمې تأیید شوې فورمه لرئ، د دایمي قانوني اقامت ( د شین کارت ترلاسه کولو ) لپاره د I-485 فورمه او یا د کډوالۍ وضعیت تنظیم مو له (uscis.gov/i-485) پتې څخه ترلاسه کړئ. نو کولای شئ په I-485-کې یې ولیکئ او I-485-فورمه واستوئ. که چیرې په متحده ایالتونو ی پته نهلرئ، نو نوې کور ته له رسیدو وروسته مو خپله نوې پته مو یاده کړهو کولی شئ هغه په دوسیه کې ثبت کړئ. که چیرې مو نوې پته په I-485-فورمه کې ثبت کړه، د استولو لارښونې له-uscis.gov/green-card-for-an-afghan- employed-behalf-us-government او یا uscis.gov/green-card/green- card-eligibility/green-card-for-an-afghan- or-iraqi-translator-or-interpreter- پتې ته څخه ترلاسه کړئ.
   - دا اړینه نه ده لکه څنګه چې د I-485 فورمه کې ورنه یادونه شوې د پاسپورټ د انځور په اندازه 2 قطعې انځورونه هم واستوئ.

4. د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالی خدمتونو اداره به وروسته له هغه چې د [I-485 فورمه](#) بشپړه او واستوله، د مرکې لهپاره وخت تنظیم کړي.

- د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالی خدمتونو اداري له لوري تولي چمتو شوي لاربښووني تطبیق کړئ. که چیرې موږ ستاسو د I-485 فورمه تصدیق کړو، نو گرین کارټ به مو در پُست کړو.
- د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالی خدمتونو اداره به ستاسو غوښتنلیک ته د رسیدني بهیر که په امن خوني ثبت وي او یا هم ستاسو په نوي کور کې ثبت شوی وی، چټک کړي.

5. د فیسونو ورکړه

- د ځانګړي افغان کډوال لپاره د I-360 فورمې لهپاره فیس نه شته.
- یوه ځانګړي افغان کډوال لپاره د تصدیق شوي I-360 فورمې پر بنسټ د I-485 فورمې سپارلو په بدل کې کوم فیس نشته.
- غوښتونکي باید د I-485 فورمې په پورتنی ښي لوري حاشیه کې د "OAW" کلمه ولیکي.

غوښتوونکي، ذینفعان او سابقه لروونکي وکیلان کولای شي د ځانګړو افغان کډوالو لپاره د I-360 فورمې په اړه د متحده ایالتونو د تابعیت او کډوالی خدماتواداري د اړیکو له مرکز سره (TTY 800-767-1833) 800-375-5283 اړیکه ونیسي. د اړیکو د مرکز کاري ساعتونه، له دوشنبي تر جمعې ورځې، د سهار له 8 بجو د ماسخوتن تر 8 بجو (ختیځ وخت) پوري دي. له متحده ایالاتو څخه بهر کسان په دې شمېره 212-620-3418 اړیکه نیولی شئ یا په انلاین بڼه په دې پته egov.uscis.gov/casestatus/landing.do د خپلې قضیې حیثیت معلومولی شئ.

د ماموریت له مشر سره د ځنډېدلي غوښتنلیک یا د کډوالی ویزې په اړه پوښتنو لپاره، په مهربانۍ د بهرنیو چارو وزارت له ویبپاڼې travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/special- immg-visa-afghans-employed-us-gov.html لیدنه وکړئ.